# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| گزارشها | Reports |
|---|---|


گزارشگران پورتال- افغانستان
۱۰ جنوری ۲۰۱۷

## در افغانستان چه می گذرد؟
### ۳۲۷



- سیدالرحمن چې په کابل کې د بایزید روښان په انستیتوټ کې محصل و، د تیرې پنجشنبې په ورځ د غزني ولایت قره باغ ولسوالۍ ته تللی و چې د یادې ولسوالۍ په بازار کې د ملي وحشت حکومت د پولیسو لخوا ونیول شو. وروسته له دې چې خلک له دې پیښې څخه خبر شول، د ولسوالۍ قومندانۍ ته ولاړل خو قومندان ورته وویل چې مونږ هغه بیرته خوشې کړی دی.
له بده مرغه له څو ورځو وروسته، د هغه مړی بازار ته نږدې ومونده شو. د ملي وحشت حکومت چارواکي چې خپلو وګړو ته د خدمت کولو جوګه نه دي، په دا ډول وژنو او کړنو سره نور هم د خلکو په منځ کې کرکه راپاروي. له کومې محکمې او دوسیې پرته د دغه ځوان وژنه، هغه تور داغ دی چې د نورو تورو داغونو په څیر د ملي وحشت حکومت د چارواکو پر تندي له ورایه ښکاري.
- فقر، بیکاری، ناامنی، فساد و زورسالاری از مواردی است که اعضای بسیاری از خانواده ها را در شهر کابل به گدائی کشانده است. گداها از زن و مرد گرفته تا کودکان پابرهنه در بسیاری از کوچه ها و جاده های کابل به چشم می خورند. سرازیر شدن میلیاردها دالر به افغانستان به نام های مختلف، هیچ دردی از صدها درد هموطنان ما را دوا نکرد و شمار گدایان با گذشت هر روز افزایش می یابد.
در حال حاضر بیش از شصت هزار گدا در سرک های کابل به گدائی مصروف اند که قسمت اعظم آن را زنان و کودکان تشکیل می دهند. بعضی از این زنان بی سرپرست و گدا در این هوای سرد زمستان کابل تا نیمه های شب در سرک ها به چشم می خورند. افزایش روز افزون آن نشاندهندهٔ بی کفایتی، فاسد بودن و بیکارگی حکومت وحشت ملی



است. مقامات دولتی با معاش های گزاف و فساد بی اندازه، روز تا روز بر ثروت و دارائی خود می افزایند، اما مردم ما در فقر و بدبختی دست و پا می زنند.

- شهر شبرغان مرکز ولایت جوزجان در شمال افغانستان از جملهٔ ولایاتی است که دزدی و آدم ربائی در آن در این اواخر افزایش یافته و باشندگان شهر را نگران ساخته است. عبدالسلام یکی از باشندگان شهر شبرغان می گوید که آدم ربایان دو ماه قبل پسر هفده سالهٔ او را ربودند و بعد از گرفتن ٤٠ هزار دالر امریکائی، پسرش را رها نمودند. تا کنون چندین مورد آدم ربائی، دزدی دکان ها و قتل دراین ولایت گزارش شده است.

مردم می گویند که موجودیت تفنگداران غیر مسؤول در شهر شبرغان که عمدتاً وابسته به باند جنایتکار **رشید دوستم** اند، عامل اصلی رویدادهای اختطاف، دزدی، قتل و آزار و اذیت مردم اند. دولت محلی نیز که در دست همین افراد قرار دارد، اراده و توانائی بازخواست از هیچ یک از مرتکبین جنایت، اختطاف و دزدی را ندارد و حتی در بسیاری موارد شریک همچو قضایا است.

- د ملي وحشت حکومت په دې وروستيو کې د کاپيسا ولايت په تګاب ولسوالی کې د شفق ۲ تر نوم لاندې ژمنې عمليات پيل کړي، څو دغه سيمې د دولت له مخالفينو څخه پاکې کړي، خو د دوی په دې عملياتو کې ملکي وګړو ته تاوان رسيدلی دی. د تګاب ولسوالی يو شمير سپين ږيري او مشران وايي چې د عملياتو په ترڅ کې شاوخوا ٤٥٠ کورنی له خپلو کورونو څخه بې ځايه شوي دي، چې له بده مرغه هيچا ورسره مرسته کړې نه ده.

دغه مشران وايي چې د ژمې په دې سړې هوا کې که چيرې د هغوی له کورنيو سره په سمدستي ډول مرستې ونشي، زيات شمير ماشومان، ښځې او نارينه به تلف شي. خلک ګومان کوي چې ملي وحشت حکومت به له هغوی سره مرسته وکړي، خو د هيواد په بيلابيلو برخو کې د بې ځايه شويو کورنيو وضعيت چې شمير يې له سلګونو زرو اوړي، په ډاګه کوي چې دغه فاسد او خاين چارواکي يوازې د خپلو جيبونو د ډکولو فکر لري. ولس او خلک هغوی ته هيڅ ارزښت نه لري چې خپل ژوند په څه ډول تيروي. د ۱۳۹۵ کال له پيل راپديخوا له ۱۶۰ زرو څخه زياتې کورنۍ له خپلو کورنو بې ځايه شوي او په همدې کال کې په طبيعي پيښو کې ۱۵۰۰ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او شاوخوا ۳۰۰۰ تنه ټپيان شوي دي.

د ملګرو ملتونو سازمان په وينا، په افغانستان کې دننه د خلکو بې ځايه کيدل بې ساري دي چې شمير يې نږدې يو ميليون تنو ته رسيږي. کندز، فراه، هلمند، ننګرهار، ارزګان، غزني، فارياب، سرپل، بغلان، بادغيس او پکتيکا هغه ولايتونه دي چې خلک د ناامنيو، جګړو او طبيعي پيښو له کبله د خپلو کورونو خوشي کولو ته اړ شوي دي. لږ تر لږه ۲۱۰ زره کورنۍ په روان ژمي کې بيړنيو مرستو ته اړتيا لري.